پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۲۱/۱۲/۱۲

# دافغانستان لپاره د پولی سیاست(پالیسی) اهمیت

## (دوهمه برخه)

تېر بحث کې مو زیاتره د پرمختیایی هیوادو؛ په دی کې بیا د افغانستان په پولی مسایلو خبري وکړي. په دغه ډول هیوادو کې چاړواکي د اقتصادی کفایت پرځای تر ډیره سیاست ( قدرت او حاکمیت) ته پام کوی او آن دا چې د مرکزی بانک چارو کی لاسوهنه کوي. کله چې دوی اقتصادی کفایت ته ځواب ونشی ویلای؛ ملت ورڅخه مخ اړوي، په دې توګه يي په وړاندې راپاڅیږی او آن حاکمیت يي ورچپه کوي.

له علمی پلوه، د چاړواکو دا ډول چلند هم د دوی او هم د ټول ملت په زیان دی او دغه ډول هیوادونه به اقتصادی استقلال تر لاسه نکړی او نه به ټولنیزی هوساینی ته ورسیږی. دوی باید پوه شی چې د پولی غوره پالیسی ترڅنګ ورته مالی پالیسی طرح او تطبیق کول هم مهم دی. یعنی د یوه لوی اقتصاد دوه برخو ته توجه په کارده. په دې توګه دوی د اقتصاد دوه مهم اړخونه نشی بشپړولای. دلته به ډیره ښه وی چې په ټول اقتصاد کی د مالی او پولی برخو په پالیسی خبری وکړو:

اول به کوشش وشي چې مسلکی ژبه يي ساده شی، مثالونه دومره عامیانه کړو چې ټول لوستونکی وربانډی پوه او ورته دلچسپه شی. دا ځکه چې د اقتصاد په ډیرو مبادیو باید هر څوک پوه وي. سینګاپور او جنوبی کوریا خپلو ټولوخلکو ته د اقتصاد ځینی مسایل وربنودل، نو ځکه يي اقتصاد ښه وده وکړه. دغه هیواد (د پوهې اقتصاد Knowledge Economy) اصطلاح وکاروله، له دې څخه موخه دا وه چې یواځي عاید مطرح ندی، بلکي مصرف تر دې هم مهم دی. او مصرف ټول عوام کوي. کله چې عوام په معقول ډول مصرف کوی، سپما هم کوي، نو هغه اقتصاد ښه کیږي.

بالعموم دوه ډوله معلومات ټولو ته ضرور دي: یو د روغتیا او دژوند دچاپیریال او بل اقتصاد.

موږ به هم د اقتصادی موضوعاتو عمومی ټکي یوڅه روښانه کړو:

پولي او مالي پالیسیګاني د ملي اقتصاد هغه لومړني وسایل دي چې حکومتونه د هغو په واسطه ټول اقتصاد کنترولوي. د اقتصاد نورو برخو کې به هغه وخت پالیسیګاني کامیابه وی چې په مجموع کې پالیسی او خصوصاً اقتصادی پالیسی وپیژنو.

اقتصادی پالیسی د ټولو هغو هڅو هاندو، اقداماتو او تدابیرو مجموعه ده چې په یوه ټاکلی سیمه (هیواد)کې د اقتصادي پیښو، حوادثو او جریاناتو د ټاکلو او تر نفوذ لاندې راوستلو او تنظیم په خاطر تر لاس لاندې نیول کیږي.

یا: اقتصادي پالیسی د پرمختیا د هدف د تحقق په خاطر په یوه سیمه (هیواد)کې د ټولو اقتصادي جریاناتو تر نفوذ لاندې راوستل، رهنمایی او تنظیمول دي.


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

پولی پالیسی او مالی پالیسی کی یوځه توپیر شته، خو دواړه یی تر ډیره مالی موسساتو(بانک، د مالیی اداراتو، دتقاعد خزینې، د بیمې اداری، پور ورکوونکو ګروپونو، پولی بازارونو او نورو ) پوری اړه لری. د پولی او مالی پالیسی بل ګډ خصوصیت دادی چې دواړه د اقتصادی پالیسی مهم اجزا دی، خو خپل منځ کی یو څه توپیرونه لری. زموږ بحث تر ډیره حده پورې د پولی پالیسی په هکله دی.




د لوی اقتصاد یا ملی اقتصاد پالیسی هغه ده چې دولتونه یې د ټول هیواد په کچه؛ په ټولو اقتصادی ساحاتو او سکتورونو کې ټاکی او هغه تعقیبوی، لکه مالیات او مالیه ټاکنه، بودجه جوړول، بانکی چارې او د پیسو عرضه، مالی بازارونه، سوداګری، استخدام، دتصدیو مدیریت او نورې ساحې.

مالی پالیسی صرف هغه برخه ده چې  مالیه ټولول او له دې مدرکه  د ترلاسه شویو عوایدو  او لګښتونو دتنظیم او استفادې لارې- چارې  بنیي.  په دې پالیسی کې د ټول ملی اقتصاد لګښتونه، د مالیاتو اندازه  او له عوایدو څخه  د بوودیچې ترتیبول یکې شامل دي، خو پولی سیاست د یو هیواد  او مرکزی بانک له خوا  د پیسو دنشر حجم او دعرضه کولو عیارول او کنترول کول دي. حال  دا چې پولی پالیسی د یو هیواد اقتصاد د متاثره کولو سیاست او کړنلاره ده. د دې معنا داده چې دا پالیسی باید دومره قوی او اغیزمنه وي، چې ټول اقتصاد ته سمون ورکړي.  په دې سره د یو هیواد اقتصاد په نوموړي هیواد کې د بانکداری سیستم د ذخایرو په تغیرولو سره کوم چې په نوموړي هیواد کې د پیسو په عرضه او د کریډیټ  شتون باندې اثر غورځوي، او دپیسو دخرید قوه متاثره کوي. دغه متاثر کول یو عمدی او آګاهانه اقدام دی چې موخه ورڅخه دپیسو د پیرودنی یا خرید د توان اوچت ساتل او د بیو ثبات وي. دا هغه ټکی دی چې همدا اوس افغانستان ته ډیر مهم دی.

**د مالی پالیسی  او پولی پالیسی توپیرونه**

Monetary policy پولي سیاست هغه وسیله ده چې مرکزی بانک له پولي مقدارونو  او د پیسو دسیستم  له کنترول څخه کار اخلی، د بیلګې په توګه ځینې وخت دولت غواړي بیې ثبات وموميٍ،یاد استخدام  کچه لوړه شي، بهرنیو ورکړو کې توازن راشي، نو ددې موخو لپاره ځانګړی پولي پالیسي غوره کوي :  د پیسو عرضه ، خلکو ته پور ورکول  او د زیرمو جوړښت کې بدلون راوستل، د پانګونې هڅونه ، له سعرسره چلند او داسې نور ګامونه چې د پیسو په ذریعه پرمخ ځي په دې پالیسیو   کې راځي. خو مالی پالیسی Fiscal policy هغه ده چې دولت د خپلې بودیجې  د تنظیم او د اقتصادي فعالیتونو  په لړ کې د عوایدو او لګښتونو ترسره کولو په برخه کې مالي اجرات  تره سره  او طرز یې وښیي. مثلاً:  د عوایدو له لوړیدو   سره وار په وار د مالیاتو لوړول د پرمختیایي   هیوادو   یوه مالی پالیسي ده ، چې د خپل اقتصاد  او تمویلی چارو په برخه کې ورته په دوامداره ډول بدلون ورکوي،  خو عموماً مالي پالیسي  د دولت دعوایدو ( د مالیاتو  ټولولو اونورو مالي سرچینو )  او د هغو د لګښت   (عامه  مصارفو )  توازن ته وایي. په دې توګه ګورو چې پولی پالیسی د یوشمیر محدودو او په خاصه توګه دپیسو په حدودوکی د مرکزی بانک له خوا طرح کیږی، خو مالی پالیسی یوځه پراخه او د مالیی وزارت له اوا طرح کیږی، دواړه مهمی دی او دواړه خپل اهداف او وسایل لری.  د


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

نومړو پالیسیو څخه مالي یې د هر هېواد د ماليې وزارت په واسطه او پولي پالیسی یې د هر هېواد د مرکزي بانک په واسطه تنظیمږي چې د پولي سیاست تنظیمول په افغانستان کې د افغانستان بانک (DAB) په واسطه صورت نیسي او دا چې د افغانستان بانک څنګه پولي سیاست تنظیموي او له کومو وسایلو څخه استفاده کوي، په همدی بانک پورې اړه لري.

متاسفانه افغانستان کې یا اقتصادی پالیسیګانی( مالی او پولی) په علمی توګه ندی جوړې شوي، یا کله چې جوړې شوي، پوره تطبیق شوی ندي. زیاتره وخت پرله پسي بحرانونو او د رژیمونو بدلونو هم د پالیسیو په نه تطبیق بد اثر کړی دی. زموږ اقتصادی وده به ترهغو پوری تامین او دایمنه نشی ترڅو چې له بحرانونو ونه وځو او سیاسی – اجتماعی ثبات ونه مومو. دا به هغه وخت کیږی چې په سیاسی او اجتماعی باثباته وضعیت کی غوره پالیسیګانی جوړې او هغه تطبیق کړو.

**لوی یا ملی اقتصاد، پولی سیستم اوپولی پالیسی**

باید دقت وشی چې دلته دری سره تړلی موضوعات یا مفاهم شته دي:

- ✓ ټول ملی اقتصاد؛
- ✓ پولی سیستم؛
- ✓ او پولی پالیسی

ټول یا ملی ااقتصاد باندې پوهیږو چې د یو هیواد مجموعی اقتصادی مسایلو سره سروکار لری، لکه استخدام، بهرنی تجارت، انفلاسیون او دیفلاسیون او نور، خو هغه څه چې پولی پالیسی یی په دننه کې تطبیقیږی، هغه پولی سیستم دی، نو آیا پولی سیستم څه دی؟

دیوه مملک پولي سیستم د مالي مؤسساتو په شمول یو د بل سره په ارتباط کې وي چې د دغو مؤسساتو څخه تنظیم شوي یا Organized او بعضي د هغوی څخه ناتنظیم شوي یا Informal وي. پرته د یو څو ګوتو په شمار هېوادونو لکه (لیبریا، پاناما او بعضي افریقایي وروسته پاتی ممالکو لکه هغه چې دالرو او فرانک پورې وابسته دی) نور هیوادونه او له هغی جملی خوشبختانه آزاد او مستقل سرلوړی افغانستان خپل پولی سیستم لری، چې ډیره ښه او ځلانده تاریخچه لری(متاسفانه دی وروستیوکی کورنیو جګړو هغه زیانمن کړ). په دې سیستم کې افغانی زموږ ملی کرنسی او دټولو افغانانوملی مشترک ارزښت دی.د یو مملکت د پولی سیستم په هسته یا راس کې مرکزي بانک قرار لري چې د پیسو(Moneyپول) د عرضي کنترول او د تنظیم شویو پولي مؤسساتو د عمومي نظارت مسؤل دی. زموږ مرکزی بانک، دافغانستان بانک( DAB) دی. علاوه له دې څخه تجارتي بانکونه د پولي سیستم مهمه برخه تشکیلوي. دغه بانکونه امانتونه قبلوي او لنډ مهاله پورونه عرضه کوي او په عین وخت کې ځیني نور خدمات خپلو مشتریانو ته عرضه کوي، خوشبختانه موږ هم خپل هیواد کی دا ډول بانکونه لرو. علاوه پردې په پولي سیستم کې د پس انداز بانکونو، د بیمي کمپنی، دتقاعد خزینه او دلوړ عایداتو لرونکي صندوقونه(فندونه) د سرمایه ګذاری بانکونه او نور شته.

د مدرن او تنظیم شوی پولي مؤسساتو په خوا کې غیر تنظیم شويInformal پولي مؤسسات هم وجود لري لکه د ګروي چارې، پولي محلي دلالان، صرافان، دکوچنیو قرضونو موسسات او کریدیت کوپراتیفونه. د دې سیستم دننه پولي سیاستونه ټول هغه تدابیر دي چې دبیو ثبات، اقتصادی وده، دپانګي ګټه اوچټول، د پس انداز تشویق او د سرمایوې او پولي بازار انکشاف او کریدیت، له اقتصادی منابعوښه ګټه اخیستل اوکفایت او د پولي سیستم تنوع متاثره کوي. په لنډ ډول وایو چې پولی پالیسی د پولی سیستم دننه او پولی سیستم د ټول ملی اقتصاد دننه کې دی. ( بحث دوام لري).


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com



برای مطالب دیگر پوهاند محمد بشیر دودیال روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com